# شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

چهارشنبه |د ذولقعده الحرام ۱۸-۱۴۴۴/ د غبرگولي ۱۷-۱۴۰۲/ د جون ۰۷-۲۰۲۳/ لومړی کال / ۵۲ گڼه/ ۴ مخیز ۱






**د خصوصي سکټور ستونزو ته د رسېدني په موخه گډه کمېټه جوړېږي**

۱۵. د ماليې وزارت او د خصوصي سکټور څلور خوني مکلفي دي، ترڅو د دواړو لوريو ترمنځ د ستونزو د دايمي حل لپاره يوه گډه دايمي کاري کمېټه رامنځته کړي او د خصوصي سکټور په مالياتي او گمرکي ستونزو بحث وکړي او د نه حل کېدو په صورت کي يادي ستونزي له مشرانو سره شريکي کړي.

## سرمقاله



## شفافیت در نظام مالی کشور

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان وظایف جمع آوری مالیات، ایجاد طرزالعمل برای مصارفات، ساختن بودیجه کشور را به دوش داشته و یکی از وزارت های کلیدی کشور بوده که نقش به سزای خود را در ثبات مالی کشور ایفا می نماید. متأسفانه در طول ۲۰ سال گذشته این وزارت یکی از ادارات مفسد نظام قبلی بود و از آن شکایات متعددی صورت میگرفت. اما در حال حاضر که امارت اسلامی افغانستان نوپا بوده و از سوی هیچ کشوری به رسمیت شناخته نشده و در آبادانی کشور از سوی هیچ کشوری مورد حمایت مالی قرار نگرفته ولی با تدبیر بیشتر و اراده مستحکم رهبری امارت اسلامی افغانستان توانست تا تماماً مسائل مالی کشور را با بهترین روش حل فصل نموده و برای اولین بار بودیجه ملی از عواید داخلی کشور ایجاد نماید، در حالیکه ایجاد بودجه از عواید داخلی کشور توسط وزارت مالیه برای بیشتری از کشور دور از امکان معلوم میشد ولی وزارت مالیه با تمام قوت، ایجاد زمینه کاملاً عاری از فساد و تعیین نمودن افراد مسلکی و متعهد توانست این کار به واقعیت مبدل نماید. در طول حدود دو سال گذشته بیشتر سازمانها و نشریه های معتبر جهانی چون سازمان شفافیت جهانی، بانک جهانی، دی اکانمیست بار ها اعتراف نموده اند که در نظام مالی افغانستان تحت حاکمیت امارت اسلامی شفافیت بوجود آمده است. بانک جهانی در راپور های خویش چنین نگاشته است ( در نظام مالی افغانستان تحت حاکمیت امارت اسلامی افغانستان نسبت به گذشته شفافیت زیادی امده است و این امر باعث شده تا نظام مالی این کشور بهتر و عواید این کشور افزایش یابد). این سازمان همچنان خاطر نشان نموده است که ثبات نرخ ارز در این کشور نسبت به کشور های همسایه اش چون پاکستان و ایران در جایگاه بهتر قرار دارد. در همین حال سازمان شفافیت جهانی در آخرین راپور خویش خاطر نشان نموده است که گویا نظام مالی افغانستان در بخش فساد مالی مبارزه خوبی کرده و چند پله صعود نموده است، ولی باید گفت که راپور سازمان شفافیت جهانی برای وزارت مالیه قابل قبول نبوده زیرا که در حال حاضر در افغانستان فساد مالی نزدیک به صفر بوده و در بیشتر موارد فساد مالی محو گردیده است. همچنان روزنامه دی اکانمیست در آخرین گزارش خویش در مورد افغانستان متذکر شده است که نظام مالی افغانستان نسبت به گذشته پیشرفت های خوبی داشته و از لحاظ اقتصادی در جایگاه بهتر قرار گرفته است. با این حال وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمامی سازمان های جهانی که در بخش مالی و شفافیت جهانی فعالیت مینمایند میخواهد بخش های مالی وزارت مالیه را از نزدیک تحلیل نموده و واقعیت های آنرا با جهانیان شریک نمایند.

**با احترام**
**اداره**

## ماليې وزارت ته سرپرست وزير او دوه معينان ور معرفي سول




د چارو اداري او لوړ پوړو امارتي مسؤلينو له لوري ماليې وزارت لپاره نوی سرپرست وزير، د گمرکونو او عوايدو معين او مالي چارو لپاره معين د يو لړ ځانگړو مراسمو په ترڅ کي معرفي سول. د افغانستان اسلامي امارت زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث ملا هبة الله اخندزاده (حفظه الله) د فرمان پر بنسټ الحاج ملا محمد ناصر اخند د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکونو مخکنی معين د دغه وزارت د سرپرست وزير په توگه معرفي سو. ملا عبدالقاهر ادريس، د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معينيت مخکنی معين د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکونو معينيت د سرپرست معين په توگه معرفي سو. حاجي عبدالقدير احمد، د افغانستان بانک دوهم مرستيال د ماليې وزارت د مالي چارو معينيت د معين په توگه د وزارت کارکوونکو ته ور معرفي سو. د معرفۍ په مراسمو کي، د افغانستان بانک رئيس الحاج ملا هدايت الله بدري، د چارو اداري د نظارت او پاليسۍ معين مولوي سيف الدين تائب، د ماليې وزارت اداري معين مولوي حمد الله زاهد، د ماليې وزارت د مقام د دفتر لوی رئيس انجينر سلطان محمد زبير او نورو لوړ پوړو چارواکو گډون کړی وو.

## د روان مالي کال د ملي بوديجې د اجراء ورکشاپ ترسره سو

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند په مشرۍ او د ملي بوديجې لوی رئيس حبيب الله سباوون او د بوديجوي واحدونو د استازو په گډون د (۱۴۰۲) مالي کال ملي بوديجې د اجراء روزنيز ورکشاپ د دې وزارت په خيبرهال کي ترسره سو. د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند گډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنگ وويل: د چارو د ښه پرمخ وړلو او ښو خدمتونو وړاندي کولو په موخه د مسؤليت اړوند برخه کي پوهه حاصلول ضروري ده او په دې برخه کي بايد هيح ډول غفلت ونه سي. د ماليې وزير، د بوديجوي واحدونو استازو ته په ټينگار سره وويل، چي د بوديجې ټول اصول په سمه توگه زده او رعايت کړئ، تر څو د بوديجې د اجراء اړوند ټولي چاري په اصولي ډول ترسره سي او په دې برخه کي د بوديجوي واحدونو او د وزارت اړوند برخو تر منځ هيڅ ډول خنډ او ځنډ رامنځته نسي. د ملي بوديجې لوی رئيس وويل، چي د بوديجې د اجراء ورکشاپ مسلکي او تخصصي دئ؛ د دې لپاره چي په ځينو برخو کي يو لړ تغييرات او تعديلات رامنځته کېږي، نو اړينه ده، چي د کړنلارو او لارښودونو د ښه وضاحت په موخه دغه شان روزنيز پروگرامونه په لاره واچوو، ښاغلي سباوون زياته کړه، چي د بوديجې د اجراء په تطبيق کي که خدای مکړه له کومي ستونزي سره مخ سو، نو د ملي بوديجې لوی رياست تخنيکي ټيم به په وخت مشکل حل او رسېدنه به ورته وکړي. په پای کي د ملي بوديجې لوی رياست تخنيکي ټيم د يو معلوماتي پرزينټيشن په وړاندي کولو سره د بوديجې د ډولونو، مراحلو، تخصيص، د حسابونو د جدول، د بوديجوي فورمونو، طرزالعملونو او د بوديجې د اجراء د لارښود په اړه گډونوالو ته معلومات ورکړل او د هغوی پوښتونو ته ئې ځوابونه وويل.



## د ماليې وزير د صنعت او سوداگرۍ له وزير سره وکتل!

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند تېره ورځ د صنعت او سوداگرۍ له وزير الحاج نورالدين عزيزي سره د ماليې وزارت په مقام کي وکتل.

په دې کتنه کي د صنعت او سوداگرۍ سرپرست وزير، الحاج ملا محمد ناصر اخند ته د ماليې وزارت د سرپرست وزير په توگه د ټاکل کېدو له امله تر مبارکۍ ويلو وروسته، دواړو خواوو د مسلکي قراردادي اشخاصو پر گمارلو، د صنعت او سوداگرۍ رياست سره د ولايتي مستوفيتونو په همغږۍ، د حوالو پر اجراء او د صنعتي پارکونو د ساتني او څارني آمريت په فعالولو خبري او سلا مشورې وکړې.



**معین مالی وزارت مالیه با تعدادی از متقاعدین دیدار کرد**

۴



**د نیمروز مستوفیت ته د ولایتي عوایدو د پراختیا او همغږۍ رئیس سفر وکړ**

۴



**د کابل گمرک لپاره نوی سرپرست رئیس**

۴



**د سپین بولدک په گمرک کي د لمریزي بریښنا پروژه گټي اخیستني ته وسپارل سوه**

۴



**اظهارنامه گمرکی و سند ترانزیت داخلی در گمرک خوست باهم وصل شد**

۴



**مسئولین گمرک تورخم از قاچاق مقدار اموال ممنوعه جلوگیری کردند**

۴

شتمني
SHTAMANAI
اوونيزه



## معین مالی وزارت مالیه با تعدادی از متقاعدین دیدار کرد



حاجی عبدالقدیر احمد معین مالی وزارت مالیه در دومین روز آغاز وظیفه اش با برخی از متقاعدین دیدار نموده و شکایات و مشکلات آنان را از نزدیک استماع نمود. معین مالی پس از استماع نظریات متقاعدین به آنان اطمینان داد که خواسته های شان را با رهبری امارت اسلامی در میان گذاشته و راه هایی حل آن را مشترک پیدا خواهند کرد.

## د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست مشرتابه د هيواد د بېلابېلو خونو له مسئولينو سره وکتل

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رئيس الحاج شېر محمد مشفق، د عملياتي مرستيال معراج محمد معراج، تخنيکي مرستيال عبدالولي نوري، د حقوقي خدمتونو رئيس ندا محمد صديقي، د ماليه ورکوونکو د خدمتونو رئيس عبدالقيوم نصير، د بررسۍ رئيس انجنير خان محمد ذاکر، د ولايتي عوايدو د انسجام او پراختيا رياست سرپرست او اداري آمر نقيب الله آزاد او د عوايدو عمومي رياست يو شمېر آمرينو په حضور کې، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني، کانونو او صنايعو، کرني او مالدرۍ، او کسبګرو خوني له مسئولينو سره د عوايدو او ګمرکونو معينيت د غونډو په تالار کې وليدل. په دې غونډه کې د متشبثينو لپاره د مالياتي اسانتياوو د برابرولو



د وړانديز له مخې د اميرالمؤمنين (حفظ الله) د حکم اړوند

موضوعاتو په اړه معلومات وړاندې سول او د عالي مقام د حکم د تحقق او د مالياتي بررسۍ پلي کولو پړاو د څرنګوالي په موخه د ماليې وازرت او يادو خونو ترمنځ د تخنيکي کمېټې د رامنځته کولو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وسوه. د يادو خونو غړو د اسلامي امارت د رهبرۍ له مهربانۍ څخه مننه وکړه او د متشبثينو لپاره ئې د دغو اسانتياوو رامنځ ته کېدل د هيواد په تاريخ کي يو بې ساری ګام وباله او د رضايت ترڅنګ ئې د هغوی منلو ته ځانونه مکلف وګڼل.

## د کابل ګمرک لپاره نوی سرپرست رئيس وټاکل سو




د ګمرکونو لوی رياست په وړانديز او د ماليې وزارت مقام په منظورۍ ښاغلی مولوي فضل الحق چي د رياست الوزرا عالي مقام له لوري د نومړي د منظوري تر راتګ پوري د کابل ګمرک د سرپرست رئيس په توګه ټاکل سوی وو، نن د ګمرکونو لوی رئيس ښاغلي مفتي عبدالمتين سعيد له لوري د ياد ګمرک کارکوونکو ته ور وپېژندل سو. په دې پېژند غونډه کي چي د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئيس، د ګمرکونو لوی رياست مرستيالانو او د کابل ګمرک يو شمېر کارکوونکو ګډون کړی وو. د ګمرکونو لوی رئيس نوي ټاکل سوي رئيس ته د مبارکۍ تر څنګ په اړوندو چارو کي د برياليتوب غوښتنه وکړه او د کابل ګمرک کارکوونکو ته ئې سپارښتنه ورکړه، چي له نوي ګمارل سوي رئيس سره په چارو کي هر اړخيزه همکاري وکړي. نومړي په ادارو کي د چارو د لا ښه والي لپاره تبديلي يو اصل ياد کړ او و ئې ويل چي هيوادوالو ته بايد په ادارو کي د ستونزو حلولو لپاره اړيني اسانتياوي برابري سي. د يادوني وړ ده چي ښاغلی مولوي فضل الحق د اسلامي امارت د اقتصادي کمېسيون غړی پاته سوی او په ګمرکي چارو کي پوره کاري تجربه لري.

## د سپين بولدک په ګمرک کي د لمريزي برېښنا پروژه ګټي اخيستني ته وسپارل سوه

د کندهار ولايت د سپين بولدک په سرحدي ګمرک کي د شاوخوا (۲۱) ميليونه افغانيو په لګښت د لمريزي برېښنا سيستم جوړ او تېره ورځ د کندهار ګمرک رئيس مولوي محمد حامد احمد او يو شمېر نورو مسؤلينو له لوري ګټي اخيستني ته وسپارل سو. ياد سيستم د (۱۸۰ DC) کيلو واټه په ورتيا سره (AC۱۵۰) کيلو واټه برېښنا توليدوي. ياد سيستم د يو افغاني شرکت له لوري د څلورو مياشتو په موده کي جوړ سو، چي ټول تجهيزات ئې د شرکت له لوري دوه کاله ګرنټي لري. تر دې وړاندي په ياد ګمرک کي د جنراتور له برېښنا څخه ګټه اخيستل کېده، چي هره مياشت ئې شاوخوا (۱,۵) ميليونه افغانۍ لګښت درلود. د لمريزي برېښنا د دې سيستم په فعالېدو سره به د ياد ګمرک په ورځنيو چارو کي پر چټکتيا سربيره، د اضافي لګښتونو مخنيوی هم وسي.






## رئیس عمومی گمرکات از امور گمرک میدان هوایی بین المللی کابل دیدار کرد




رئیس عمومی گمرکات محترم مفتی عبدالمتین سعید که رؤسای تعرفه و قیمت گذاری نیز ایشان را همراهی میکرد، از امور گمرک میدان هوایی بین المللی کابل دیدار نمود. وی ضمن دیدار از بخش های گمرک مذکور، توصیه ها و هدایت لازم را نیز به مسئولین و کارمندان مربوطه جهت بهبود امور ارائه کرد.

## د نيمروز مستوفيت ته د ولايتي عوايدو د پراختيا او همغږۍ رئيس سفر وکړ



د عوايدو لوی رياست اړوند د ولايتي عوايدو د پراختيا او همغږۍ رئيس ښاغلي مولوي (حافظ شاه حسين حسيني) د نيمروز مستوفيت د ستونزو د حل له پاره سفر وکړ. ښاغلي حسيني د نيمروز د مستوفي ښاغلي مولوي ضياء الدين ضياء او ورسره مل پلاوي د نيمروز د استخباراتو رئيس، د کرني او اوبولګوني رئيس، د نورم ستنډرډ د ملي ادارې ولايتي مدير، د ټرانسپورټ رئيس، د احصائيې مدير، د نيمروز ولايت کفيل والي او نورو ښاغليو سره وکتل، ټولو محترمو رياستونو او د ولايت ښاغلي کفيل والي د هر ډول همکارۍ ډاډ او اطمينان ورکړ. ښاغلي حسيني د مستوفيت اړوند د ټولو چارو څخه ليدنه وکړه او پر ټولو موجودو ستونزو خبري اتري وسوې او حتی الامکان د حل لاري ورته پيدا کړل سوې؛ د مستوفيت ځينو کارکوونکو او د ځينو ادارو رئيسانو ته د ښو کارونو د ترسره کولو په موخه ستاينليکونه ورکړل سول. د ولايتي عوايدو د پراختيا او همغږۍ رئيس اصلاحي خبري وکړې او زياته ئې کړه: که چيري زموږ نيت د الله جل جلاله رضا وي او په صدق او اخلاص سره کار وکړو، موږ به تل په چارو کي بريالي و اوسو. نومړي زياته کړه: دا چي افغانستان زموږ او ستاسو ګډ کور دئ او اسلامي نظام په کي حاکم دئ، نو په ګډه به خپل ځورېدلي ولس ته کار کوو. د يادوني وړ ده، چي د ولايتي عوايدو د پراختيا او همغږۍ رئيس تر دې وړاندي نورو ولايتونو ته هم ورته کاري سفرونه ترسره کړي دي او دا لړۍ به لا پسي وغځېږي.

شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه




PR No: 120 1402 -03- 17

**د افغانستان د خلکو سره د اسلامي پراختيايي بانک د مرستي په اړه د ماليې وزارت اعلاميه!**

اسلامي پراختيايي بانک (IsDB) د افغانستان لپاره د بشرپاله مرستو صندوق (AHTF) له لاري د (۸,۱) ميليون امريکايي ډالرو په ارزښت، شپږو نړيوالو بنسټونو سره د هيواد په مختلفو ولايتونو کي د خوړو خونديتوب، د پاکو اوبو رسولو، روغتيا او کرني په برخو کي د همکارۍ تړونونه لاسليک کړي دي.

د ماليې وزارت، د اسلامي همکاريو سازمان، اسلامي پراختيايي بانک او د اسلامي همکاريو سازمان غړيو هيوادونو د دغه نيک اقدام څخه هرکلي او ستاينه کوي او د افغانستان له خلکو سره د بشر پاله او سخاوتمندانه مرستو څخه مننه او قدرداني کوي.

د ماليې وزارت، له هغو ټولو بنسټونو څخه چي د بشري مرستو په برخه کي کارکوي، تمه لري چي د ټولني د واقعيتونو او لومړيتوبونو په پام کي نيولو سره، د دغه وزارت سره په همغږۍ پروژې طرح او ډيزاين کړي تر څو په شفاف ډول پلي او د خلکو سته ستونزي په حقيقي ډول حل سي.

afghanistanmof www.mof.gov.af

## اظهارنامه گمرکی و سند ترانزیت داخلی در گمرک خوست باهم وصل شد

ظهارنامه گمرکی و سند ترانزیت داخلی (T۱) به منظور معیاری سازی پروسه های گمرکی ریاست عمومی گمرکات، از طریق سیستم آسیکودا در گمرک ولایت خوست وصل گردید. از این به بعد هر (T۱) با اظهارنامه طی مراحل می شود و علاوه بر این پروسه اعتبار (T۱) نیز سیستمی می شود. همچنین با تطبیق این پروسه برای تجار در پروسه های گمرکی نسبت به گذشته سهولت بیشتر ایجاد و شفافیت در مراحل گمرکی افزایش خواهد یافت. قابل یادآوریست که در آینده نزدیک پروسه مذکور در سایر گمرکات کشور نیز تطبیق خواهد شد.



## رهبری ریاست عمومی عواید با نمایندگان تخنیکی وزارت های امور خارجه و اقتصاد دیدار کرد

معراج محمد معراج معاون عملیاتی ریاست عمومی عواید وزارت مالیه در حضورداشت مولوی دوست محمد حقانی رئیس تنفیذ و اطاعت پذیری مالیاتی و محمد جلال احمدزی رئیس سیستم ریاست عمومی عواید با نمایندگان تخنیکی وزارت خانه های امور خارجه و اقتصاد دیدار نمودند. در این دیدار روی ساختن میکانیزم نظارت از امور مالی و قراردادهای مؤسسات غیردولتی غرض تامین شفافیت مالیاتی آنها بحث و تبادل نظر صورت گرفت. همچنان در این گفتگو فیصله گردید تا نشست بعدی با اشتراک رؤسای ادارات ذیربط جهت نهایی ساختن میکانیزم همکاری میان ادارات مذکور تدویر یابد.

## مسئولین گمرک تورخم از قاچاق مقدار اموال ممنوعه جلوگیری کردند



د تورخم ګمرک مسؤلینو د شوکانۍ (تالک ډبري) په صادراتي محموله کي د ۱۰ ټنه میده سوي لیتیم ډبري، له ډبرو څخه جوړو سویو مجسمو، ۱۹۵ کیلو ګرامه غنمو او له ډبرو څخه جوړ سویو تسبیحو چي په قاچاقي بڼه لېږدول کېدل مخنیوی وکړ. دغه صادراتي محموله چي د مطیع سمیع د استخراج شرکت اړونده وه او غوښتل ئې یاد توکي په غیر قانوني او قاچاقي توګه پاکستان ته قاچاق کړي د زړورو مسؤلینو له لوري کشف او وپېژندل سول. د یادونې وړ ده، چي اوس مهال د هیواد په ټولو ګمرکونو کي د ممنوعه او قاچاقي توکو څخه په کلکه څارنه کیږي او چاته اجازه نه ورکول کیږي، چي له قانوني مراحلو پرته بهر ته توکي صادر او یا وارد کړي.

## د فراه ګمرک هم سوداګرو ته د لا اسانتیا رامنځته کولو په موخه ۲۴ ساعته فعالیت ته چمتو دی




د ګمرکونو عمومي ریاست هوډ لري، چي د فراه ګمرک د سوداګریزو توکو او سوداګرو ته د اسانتیا رامنځته کولو په موخه د ۲۴ ساعته فعالیت لپاره چمتو کړي. د دې ګمرک ژمن مسؤلین او کارکوونکي شپه او ورځ چمتو دي، چي ستاسو د توکو ګمرکي پړاوونو د ترسره کولو لپاره، تر ۲۴ ساعتونو پوري فعالیت وکړي. د فراه ګمرک د هیواد له مهمو ګمرکونو څخه شمېرل کیږي، چي اوس مهال هم ۱۶ ساعته ګمرکي فعالیت کوي. که چیرته سوداګر د یاد ګمرک له ۲۴ ساعته فعالیت سره موافق وي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د فراه ګمرک او یا هم د ګمرکونو لوی ریاست ته وسپاري. له دې وړاندې نیمروز ګمرک هم د سوداګریزو توکو د چټک طی مراحلو لپاره ۲۴ ساعته فعالیت ته چمتو والی ښودلی وو. همداشان که سوداګر وغواړي، چي د هیواد په کچه د هر ګمرک فعالیت ۲۴ ساعته سي، د ګمرکونو لوی ریاست چمتو دی چي غوښتنه ئې ومني.

# اعلانات داوطلبی

### اعلان تدارک ۳۰۰۰ لایسنس انتی ویروس برای کمپیوترهای وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء (تدارک ۳۰۰۰ لایسنس انتی ویروس برای کمپیوترهای وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه ۰۱۰-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ سرطان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۶۰,۰۰۰ (شصت هزار) افغانی میباشد.

آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

### اعلان پروژه تهیه و تدارک پزره جات وسایط وزارت مالیه و قطعه محافظت گمرکات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تهیه و تدارک پزره جات وسایط وزارت مالیه و قطعه محافظت گمرکات) دارای نمبرتشخیصیه REBID -۰۰۳-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۳/ سرطان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۲۰۰,۰۰۰ (دوصد هزار) افغانی میباشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

### اعلان تدارک روغنیات، فلترباب و تایرهای مورد ضرورت وسایط وزارت مالیه

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر داوطلبی پروژهء (تدارک روغنیات، فلترباب و تایرهای مورد ضرورت وسایط وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه ۰۱۲-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی و نوع قرارداد چهارچوبی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۵/ سرطان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۱۳۰,۰۰۰ (یکصد و سی هزار) افغانی صرف تضمین بانکی می باشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله خُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.a
ټویټر: @ afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



## د ماليې وزارت د عوایدو لوی ریاست د تېر کال ستري کړني

١ د عالي القدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د هدایت پر بنسټ د مالیاتي جریمو او تر ۱۳۹۵ لمریز کال وړاندي کلونو د مالیاتي باقیاتو معاف کیدل او پلي کول.

٢ د ماليې وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د منظورۍ پر بنسټ د کسبګرو او هټیوالو د ملاتړ او هڅوني په موخه مالیاتي نورم له (1.۵) سلني څخه (۰،۵) سلني ته راکمول.

٣ د نوي مالیاتي نورم پر بنسټ د اصنافو د درجه بندي لپاره د (۱۰۰۰) تنو وړ، مسلکي او ایماندارو کدرونو ګمارل، چي په ۱۴۰۱ مالي کال کي، په مرکز (کابل) کي (۹۴۷۱٦) اصناف او په ولایتونو کي (۲۹۲۰۰۰) اصناف تثبیت او په سیګټاس سیستم کي ثبت سول.

٤ د عوایدو لوی ریاست مالیه ورکوونکو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه پر مالیاتي قوانینو او طرزالعملونو پوه او مسلکي (۸۵) مالیاتي محاسبینو ته په مالیاتي برخو کي د فعالیت جوازونه ورکړي، چي په مالیاتي برخو کي مالیه ورکوونکو ته خدمات وړاندي کړي.


٥ د عوایدو لوی ریاست قدرمنو مالیه ورکوونکو ته د اسانتیا، شفافیت او وخت د ضایع کېدو د مخنیوي په موخه د آنلاین برېښنایي سیسټمونو (اظهارلیک، TIN، د عوایدو د مدیریت معلوماتي سیسټم...) فعالول، د مالیه ورکوونکو د خدمتونو ریاست رامنځ ته کول او د غیرمالیاتي عوایدو برخه برېښنایي کول او له بانکي سیسټم سره نښلول.

٦ د عوایدو لوی ریاست د مالیاتي قوانینو تعدیل، د طرزالعملونو ترتیب، د مالیاتي لارښودونو (رهنمودونو) تعدیل، د غیرمالیاتي عوایدو د مسودې ترتیب، د باقیاتو د طرحي ترتیب او د عشر او زکات طرحي ترتیب.

٧ مالیه ورکوونکو ته د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو او لارښودونو په اړه ورکشاپونه وړاندي کول او د هغوی ستونزي له رهبرۍ سره شریکول.




## Farah Customs is also ready to operate 24 hours to provide more convenience to traders!




The General Directorate of Customs is determined to prepare Farah Customs (FC) for 24-hour operation in order to facilitate commercial goods and traders. The dedicated customs officials and staff are ready 7/24 to perform the customs steps of your goods up to 24 hours a day. FC is one of the most important customs of the country, which currently operates 16-hour customs services. If the businessmen agree with the 24-hour operation of mentioned custom, they can submit their applications to the FC or the General Directorate of Customs. Before this issue, Nimroz Customs also showed readiness to operate 24 hours for fast transit of commercial goods. In addition, if the businessmen tend to make every customs operation 24 hours, the General Department of Customs is ready to accept the request.

## Acting Minister and two deputies were introduced to the Ministry of Finance




On behalf of Administrative Office of Prime Minister and senior government officials the new Acting Minister for the Ministry of Finance (MoF), the Deputy of Revenue and Customs and the Deputy for Financial Affairs were introduced during a series of special ceremonies. On the basis of the decree of the leader of the IEA, His Excellency Amirul Momineen Sheikh Al-Hadith Maulawi Hibatullah Akhundzada (may Allah protect him), Haji Mullah Muhammad Naser Akhund, the former Deputy of the Revenue and Customs MoF, was introduced as the Acting Minister of this ministry. Mullah Abdul Qahir Idris, the former Deputy Minister of Energy of the Ministry of Water and Energy was introduced as the Acting Deputy Minister of Revenue and Customs of Mof. Haji Abdul Qadir Ahmed, the second deputy of Da Afghanistan Bank, was introduced to the employees of the ministry as the Deputy for Financial Affairs of (MoF). In the presentation ceremony, president of Da Afghanistan Bank Alhaj Mullah Hidayatullah Badri, Deputy Minister of Supervision and Policy of Department Affairs of MoF Maulawi Saifuddin Tayeb, Deputy Minister of Finance Ministry of Administration Maulawi Hamdullah Zahid, General Director of the Office of (MoF) Engineer Sultan Muhammad Zubair and other senior officials attended.




PR No: 120 06/07/2023

### The Press release of the Ministry of Finance about the assistance of the Islamic Development Bank to the people of Afghanistan

The Islamic Development Bank (IsDB) through the Afghanistan Humanitarian Aid Fund (AHTF) in the amount of (8.1) million US dollars, with six international institutions in various provinces of the country to provide food safety, clean water supply, health and they have signed cooperation agreements in the agricultural sector.

The Ministry of Finance (Mof), the Organization of Islamic Cooperation, the (ISDB) and the member countries of the Organization of Islamic Cooperation welcome and appreciate this good initiative and are thankful for the humanitarian and generous assistance to the people of Afghanistan.

The Ministry of Finance, from all the institutions that work in the field of humanitarian aid, is expected to plan and design projects in coordination with the Ministry, taking into account the realities and priorities of the society, in order to implement them transparently; and the problems of the people will be solved in a real way.

afghanistanmof www.mof.gov.af